# د کوویډ- ۱۹ واکسین

## دا واکسین مو د کومي ناروغی پر وړاندې ساتنه کوي؟



دا واکسین د هغه بدو روغتیایی اغیزو پروړاندې محافظت چمتو کوي چې د کوویډ - ۱۹ ویروس له امله رامینځته کیږي

## څوک باید دا واکسین ترلاسه کړي؟




هر هغه څوک چې ۶ میاشتي یا ډیر عمر ولري (صحتمند، د سالم معافیت لرونکي اشخاص) باید د کوویډ - 19 واکسین ترلاسه کړي.

## څوک باید دا واکسین ترلاسه نکړي؟

تاسو ممکن دا واکسین ترلاسه نه کړئ که تاسو د دې واکسین یا ورته واکسین د یوې برخې سره حساسیت یا وروسته جدي/غیر معمولي جانبي عوارض یا بدي اغیزي ولرئ.

## د دي واکسین جانبي عوارض څه دي؟



جانبي عوارض یې عادي او لنډمهاله وي. چي د پیچکاری یا ستني په ځای کې سوروالی، پړسوب، نارامي، ژړا، ستړیا، خاربنت، تبه، ضعیفه اشتها او داسې نور شامل دي.د عوارضو د ښه والی لپاره د ستني په ځای کې د یخ، لوند ټوکر ایښودل، د تبي یا درد سره د مقابلې لپاره د ibuprofen یا acetaminophen په څیر درملو اخیستل مرسته کولی شي.

---

**که تاسو کومي اضافي پوښتنې لرئ یا غواړئ خپل واکسین واخلی؟ تاسو کولی شئ:**

- د روغتیایی خدماتو ۸۱۱ شمیري سره اړیکه ټینګه کړي.
- د نوي راغلو خلکو لپاره د څو ژبو روغتیایی مرکز ته په 1-587-392-8062 شمیري اړیکه ټینګه کړي.
- د خپل کورنی ډاکټر یا د لومړني صحي خدماتو مرکز سره اړیکه ونیسئ.

AIMGA Alberta International Medical Graduate Association
19 TO ZERO UNITED AGAINST COVID-19
Public Health Agency of Canada
Agence de la santé publique du Canada
ACTION FOR HUMANITY